شهادت

وهمچنان شماراامت وسطي ساختيم
تابرمردم گواه باشيد وپيامبر(ص) برشماگواه باشد

۸ صفحه

ارگان مركزى حزب اسلامى افغانستان

شماره مسلسل (٤٠٩) سال چهاردهم ،شماره (١٠٥) يكشنبه (١٢)قوس ١٣٧٠ هـ .ش- (٢٧)جمادي الاول ١٤١٢ هـ.ق- (٣)دسمبر ١٩٩١م

الهي لارښووني

لوي خداي جل جلا له فرمايي :

له نارينه او ښځونه چي كوم كسان خيرات وركوونكي وي او الله ته بي حسنه پور وركړيدي ، هغوي ته به څو برابره وركړي شي او دهغو لپاره بهترين اجر دي

الحديد ١٨ آيت

يك موتر هشت سلندره درجاده ميوند شهركابل منفجرگرديد

آمريت وفا رياست نظامي حزب اسلامي خبرميدهدكه به تاريخ ٢٨ عقرب سال جاري مجاهدين حوزه مركزتوسط بم مقناطيسي يك موترهشت سلندره رژيم مزدور راتخريب ويك نفررابه هلاكت رسانيده اند .

درخبرعلاوه گرديده كه موتروقتي منفجرگرديد كه در جاده ميوند مصروف تلاشي بود ، درين انفجارچندنفرعسكر نيز زخمي شده اند .

افغاني مهاجرينوته مرستي زياتي شويدي

سرداريعقوب ناصر

اسلام آباد :

دامريكا په گډون څيني نوروليديزوهيوادو اوملگروملتوافغاني مهاجرينوته خپلي مرستي له سره پيل كړيدي. دغه ټكي دپاكستان دسرحدي چارووزير سردار يعقوب ناصر دشنبي په ورځ له جنگ ورځپاڼي سره په مركه كي څرگنده كړيدو.

هغه وويل دافغانستان دستونزي له پيل كيدو ورووسته دلومړي ځل لپاره مرسته كوونكوهيوادونو په غنمو ،تيلو ، غوړو وچو شيدو اونوروموادو كي زياتوالي راوړي دي . تيركال پاكستان ته څلورلكه اولس زره متريك ټنه غنم وركړل شويدي ، پداسي حال كي چي سږ كال څلورلكه او پنځه اويا زره ميتريك ټنه غنم مرسته شويده همداراز ملگروملتوتيلو لپاره اته پنځوس مليونه روپۍ وركړيدي دپيل خبر له مخي سعودي عربستان هم دمهاجرينو لپاره ۲۰ مليونه ليتره دخاوروتيل برابر كړيدي همداراز دخوراك نړيوالي اداري هم مهاجرينو ته ددپارلس نيم زره ميتريك ټنو غوړو وعده كړيده.

سرداريعقوب ناصر زياته كړه چي نړيوالي اداري داخبرهم منلي چي ترڅو په افغانستان كي امن رانشي نومهاجرين خپل ملك ته نشي تللاي .

بافتح سه پوسته دربغلان ۷ نفر اسير و ۲ نفركشته شدند

بغلان ارتباط نظامي :

به اساس مخابره برادر قوماندان بشيرخان ازولايت بغلان مجاهدين به تاريخ ۳ قوس سال جاري طي عمليات گسترده شان بالاي پوسته هاي شهرنوبغلان درمنطقه هودخيل دوپوسته مستحكم دشمن را فتح و (۲) نفرازمحافظين آن را به هلاكت رسانيده تعداد رازخمي نمودند درگزارش علاوه شده است كه چهارتن از برادران مجاهد جراحات سطحي برداشتند هكذا در راپور ديگري مجاهدين حوزه مصحف ولايت بغلان به تاريخ ۵ قوس بالاي پوسته هاي به اصطلاح امنيتي دشمن حمله آورشده يك پوسته رابا همه امكانات فتح نموده ، يك ميل ماشيندار گرينوف ، يك ميل ماشيندارثقيل دوميل راكت PRG،۶ميل سلاح خفيفه مختلف النوع ويك پايه مخابره را غنيمت نمودند . هم چنان درين عمليات يك صاحب منصب معه ۶ نفرعسكر دراسارت مجاهدين درآمدند.

ايران رابطه مستقيم هوايي ،خطوط آهن ومخابرات راباجمهوري تركمنستان برقرارمي سازد

آژانس خبر رساني ايران ميگويد : سفرعلي اكبرولايتي وزيرخارجه ايران به جمهوريت هاي مسلمان شوروي علايق مهم سياسي راباپنجاه مليون مسلمان شوروي برقرارمي نمايد.

ولايتي ديروز درعشق آباد پايتخت جمهوريت تركمنستان باسفر مراد نيازوف رئيس جمهوري آن كشور ملاقات كرد .

ولايتي گفت : ايران آماده است تا رابطه مستقيم هوايي ، خطوط آهن ومخابرات را باتركمنستان كه درهمسايگي آنكشور قرروداره برقرارسازد .

گزارش حاكيست كه نيازوف از ديپلومات ايراني دعوت بعمل آورده تا دركنفرانس سران هشت جمهوريت مسلمان شوروي اشتراك نمايد كه اوايل سال آينده درتركمنستان دايرخواهدشد.

درعين زمان گزارش ها حاكيست كه سازمان كنفرانس اسلامي ازجمهوريت هاي مسلمان شوروي دعوت كرده است تادر جلسه سران آن سازمان كه در هفته آينده در داكارپايتخت سينگال داير ميشود اشتراك نمايند.

استادرباني شايعات مداخله ايران درامورداخلي افغانستان راردكرد

فرومی زیره

به اساس خبرهاي رسيده از خبرگزاري ميديا استاد رباني امير جمعيت اسلامي اخبارنشرشده درمطبوعات را كه گويا ايران بر اساس موافقه سري بارژيم كابل بسته هاي مواد غذايي را ازطريق هوابه مناطق مركزي افغانستان فروريخته ودرنظرداره مواد سوختي براي رژيم كابل تهيه كند را ردكرده اند. به اساس گزارش ،استاد رباني پيرامون موضوع باماموربن سفارت ايران دراسلام آبا دصحبت نموده.اين موضوع ازسوي آنها ردشده است طبق خبر ماموربن ايراني اين كمك را بنابه پيشنهاد قوماندانان نموده اند در ارتباط به تهيه تيل ومواد سوختي از طرف ايران به رژيم كابل استاد رباني گفتند. مقامات ايراني اين ادعا را ردكرده كه ايران هيچ نوع همكاري با رژيم كابل نداشته ودرآينده نيز نخواهد داشت . درارتباط اين موضوع ناظرين عقيده دارند : چطور ممكن است كه طياره ايراني بدون رضايت رژيم كابل با اطمينان خاطر درفضاي افغانستان گردش نموده مواد راحتي درقسمت مركزي افغانستان به زمين

دمسكواوفدرالي روسيي ترمنځ اقتصادي تړون لاسليك شو

لند ن: دشوروي جمهوررئيس گورباچوف او دفدرالي روسيي جمهور رئيس يلتسين پر اقتصادي تړون لاسليك كړ چي ددي په وجه دشوروي اقتصادي بحران فعلاً له منځه لاړ . دبي بي سي راديو په حواله په تړون كي بوريس يلتسين ددي خبري ضمانت وكړي چي ټولوحكومتي مامورينوته به ددسمبر مياشتي معاشونه وركوي اودمشكل په صورت كي به فدرالي روسيه له شوروي پوځ اونورو حكومتي ادارو سره هم مالي مرسته كوي.

امريكايي الوتكو پر ليبيا باندي د حملي لپاره تمرين پيل كړ

(٤)مخ

مليشه هاي تحت الحمايه اسرائيل درجنوب لبنان ۲۵ تن زنداني عرب را آزاد ساختند

مليشه هاي جنوب لبنان كه تحت الحمايه اسرائيل ميباشند بيست وپنج زنداني عرب را بعد ازآن آزاد ساختند كه رباينده گان طرفدار ايران وعده دادند يك گروگان ديگر امريكا يي را رهانمايند.

اسرائيل ميگويد : رهايي زندانيان عرب بمنظور كمك با منشي عمومي ملل متحد براي حل معضله گروگان ها صورت گرفته است .

اين گروگان امريكا يي پنج سال قبل گروگان گرفته شده بود.

سازما عدالت انقلاي طي دپيامي كه روز يكشنبه انتشار يافت گفت : دوگروگان باقيمانده امريكا يي درهفته جاري آزاد خواهند شد.

خانم رئيس جمهورنام نهاد رژيم كابل به فرانسه فراركرد

خبرگزاري ميديا به اداره شهادت گزارش مي دهد كه بدنبال مشوره نجيب به اقارب ووابستگانش در ارتباط فرارازافغانستان اينك " فتانه "زوجه نجيب به فرانسه گريخته است .

گزارش به نقل از نزديكان نجيب كه از افشانامش معذرت خواسته مي افزايد كه نجيب اخيراً درفرانسه عمارتي خريداري كرده درنظرداره خود نيز ازطريق هندوستان به آنجا فرارنمايد.

طبق راپور : احمد سرور باجه نجيب كه سمت سفارت افغانستان در دهلي جديد را به عهده دارد درخريداري اين عمارت در فرانسه رول اساسي داشته وخانم نجيب نيز ازطريق هندوستان به فرانسه رفته است .

به اساس گزارش احتمال آن مي رودكه نجيب بابسياري از دوستانش ازكابل فرار نمايد . زيرا وضع ناهنجار زندگي دركابل ومشكلات روزافزون مردم مقامات رژيم كابل را تحت فشار قرارداده احتمال فرارآنها را روزبروز بيشترمي سازد.

سرمقاله

سام ددابنکه بر انجاره مقربان نغابت ملهم امت

دستونزي حل دجهادي مشرانو په توافق كي نغښتي دي

لكه څنگه چي ښكاره ده دافغانستان ستونزه خپل وروستي حساس پړاوته رسيدلي، په ملي اوبين المللي محافلو اوغونډوكي دبحث عمده ټكي تشكيلوي اوترټولونه مهمه داچي نن سباپښتنور په دي اړوند دسياسي بحثونو مركز گرځيدلي ، هرڅوك هڅه كوي چي دستونزي په اړوند دجهادي مشرانو نظرمعلوم كړي اويا په دي هكله نوي پيشنهادونه واوري . پيښورته دپاكستان دبهرنيو چارو دوزارت دعمومي منشي اكرم ذكي سفراوله ټولو جهادي مشرانوسره يي جلاجلا كتنه له پوي خوا، او په اسلام آباد كي دروسيي دسفيرويكتورپاكوتين ملاقاتونه له انجنيرحكمتيار اواستادرباني سره له بل پلوه او همداراز دملگروملتودعمومي منشي دځانگړي استازي بينن سيوان خبري چي دجهادي مشرانوسره يي كړي له بل لوري ټول په خپل ذات كي دافغانستان دستونزي حساسيت اواهميت په گوته كوي له همدي امله ، زموږ جهادي مشرانوهم دمسئلي دحساسيت په نظركي نيولو ، اوپه همدي وخت كي دبهرنيو اواسلام دښمنو ځواكونو دلاسوهني دمخنيوي په خاطر ، خپل منځي ناستي ولاړي پيل كړيدي ، اوله څو ورځوراهيسي دمختلفو جهادي ډلودمشرانو ترمنځ دافغانستان دستونزي حل ته دلاري پيداكولو په خاطر پټي اوښكاره غونډي رواني دي .

دجهادي مشرانو خپل منځي خبري اتري اودحالاتو اوپيښوپه هكله دنظرتبادله ، ډيراهميت ورڅي ، هيله ده چي دغه خبري به ديوكلي اواتفاقي پيشنهاد اومتحددريځ په حيث راڅرگندي شي . دهمدي خبروبركت دي چي دشنبي په ورځ ددريو مهمو جهادي مشرانوترمنځ دستونزي دحل په اړوند پولړتوافقات شوي، كه څه هم تراوسه يي له افشاكولو څخه ډډه شوي، ولي بايد داكلي توافقاتو په لوريومثبت اوداپام وړگام وبلل شي . په ځانگړي توگه چي په دي كي دااشاره هم څرگنده شوي چي كه دغه توافقات په عمل كي پياده شي نوحزب اسلامي افغانستان به هم دافغاني مجاهدينو اوروسي واكمنو ترمنځ دخبرو په دويم پړاوكي ورگډيږي . كه داكاروشي توكيداي شي چي مجاهدين به ديوه قوي اوغښتلي موقف اودريځ نه برخمن وي، په دي لړكي لازمه ده چي داستادسياف او مولوي صاحب خالص سره هم چي اصلا دمسكومذاكرات دجهادلپاره مضراو حرام بولي، تفاهم وشي مشران بايد هغوي هم دي ټكي ته رامات كړي چي دحزب اسلامي په شرائطواو دوروستيوتوافقاتو په اساس په خبروكي برخه واخلي اويادا چي دانور په دي قانع كړي چي ريښتيا هم خبري په گټه نه دي اوبايد تري ډډه وكړي .

خبره ددي نه ده چي دمجاهدينو او روسي واكمنو ترمنځ خبري گټه لري اوكه تاوان ، هره خواپه دي اړوند دلايل لري . كمزوري اوياقوي، ياخوك پري قانع كولاي شي اويايي نشي.

(۳)مخ

په افغانستان كي يواځي مجاهدين دحكومت كولوحق لري

اعجازالحق

دپاكستان دكاروزير اودجنرال محمد ضيا الحق زوي اعجازالحق ويلي چي دافغانستان په هكله يوه خبره دافسوس وړده چي نه يوازي حكومت بلكي دبهرنيوچارو وزيرهم له افغانستان څخه دروسي پوځونو تر وتلو وروسته دپراخ بنسټي حكومت خبري كوي ، پداسي حال كي چي د ضيا الحق په وخت كي پاليسي داوه چي دروسي پوځ تر وتلو وروسته به په افغانستان كي يوازي مجاهدين حكومت جوړوي.

استادرباني درموردسفرهيئت مجاهدين به مسكوبه برادران عرب توضيحات داد

گردهم آيي تحت عنوان شرح نتائج مذاكرات مسكو به برادران عرب مقيم پشاوربه روز دوشنبه ۱۱ قوس سال جاري درمقربورد مشورتي جمعيت اسلامي افغانستان واقع راحت آباد دائرگرديد.

محفل به اشتراك عده كثيري از برادران مجاهد عرب مقيم پشاور وتعداد از مهاجرين افغاني حوالي ساعت ده بجه قبل ازظهر افتتاح گرديد.

بعداً استاد برهان الدين رباني رهبر جمعيت اسلامي افغانستان پيرامون سفر اخيرش كه در رأس هيئتي عازم مسكو گرديده بود، به برادران عرب توضيحات تفصيلي ارائه نمود . استاد در ارتباط به مواد فيصله شده بين هيئت مجاهدين ومقامات شوروي درين سفر به حاضرين روشني انداخت .

صبغت اله مجددي در روم با شاه مخلوع ملاقات نمود

به نقل ازمنابع مؤثق چندي قبل صبغت الله مجددي رئيس جبهه نجات به نام تداوي به امريكا رفته بود، نامبرده روزدوشنبه هفته گذشته (تاريخ ٤ قوس) حين بازگشت ازواشنگتن درروم توقف مختصري نموده است .

درخبرعلاوه گرديده كه صبغت الله مجددي درين توقف باظاهرشاه ملاقات كرده ويه اواطمينان داده كه اگريه افغانستان برگردد ملبگراها ازوي حمايت خواهدكرد .

دلاهي نړيوالي قضايي محكمي دايران په گټه فيصله وكړه

تهران : دلينډي ۱۰ نيټه :

دلاهي دقضايي محكمي په حكم امريكا دايران دپوځي اموالو ديوي برخي دبيي له دركه دايران جمهوريت ته ددوه سوآته اويا مليون دالرويه وركولوچي دعراق اوايران دجگړي په لړكي يي لدوركولو څخه ډډه كړي وه محكومه كړيده .

دنړي والو حقوقي خدماتو ددفترحقوقي مرستيال همان روح افزا ددي خبري دكولو په ترڅ كي وويل چي ددي محكمي دحكم پر اساس امريكامحكومه شويده .

دايران دپوځي اموالو دهغي برخي بيه چي په ۱۹۸۱ كال كي يي ايران ته دوركولو مخنيوي كړي دي بايد دسودپه حساب سره ايران ته وركړي شي.

بايد وواېوچي د ۱۹۸۱ په مارچ كي امريكا دالجزاير له لاري چي په امريكي كي دايران دگټوساتندوي وو رسماً اعلان وكړ چي دسياسي ملاحظاتو اوله عراق سره دايران دجگړي په وجه دايران پوځي اموال وروته سپاري ترڅو په جگړه كي خپله بي طرفي وساتي.

دلاهي قضايي محكمي وروسته له ډيرو پلټنويه دي برخه كي دامريكا پريكړه دايران دمالونو دمعادري په توگه وبلله .

لبنان در مذاكرات صلح واشنگتن خواستار خروج اسرائيل از جنوب لبنان خواهد شد

صفحه (٤)

محبوبيت بش روزبه روزازبين مي رود

يك مراجعه تازه به عقايد عامه در امريكا نشان ميدهد كه محبوبيت رئيس جمهور بوش براي اولين باربعدازآنكه سه سال قبل مقام رياست جمهوري رابدست آورده كمترازپنجاه فيصد تنزيل كرده است . اين سروي كه بصورت مشترك توسط دوسازمان خبري امريكا يي صورت گرفته نشان ميدهد كه چهل وشش فيصد كساني كه به آن جواب داده اند ازطرزكار رئيس جمهور طرفداري مينمايند ، درحدود هفتاد وپنج فيصد طرزاداره اموراقتصادي را از طرف رئيس جمهور ضعيف توصيف كرده اند اقتصاد ايالات متحده فعلاً درحالت ركود قراردارد. گفته ميشود كه در امريكا په صدهاهزار مردم درحالت بيكاري به سرميبرند.

سليمان ديمريل داعتماد رايي ترلاسه كړي

انقره :

دتركيي دملي شوري په غونډه كي چي د شنبي په ورځ دمجلس دمشر حسام الدين چن دورك تر مشري لاندي وشوه دتركيي دجمهوريت ۴۹ او سليمان ديمريل اووم حكومت داعتماد رايه ترلاسه كړه .

په دغه رايه وركونه كي د ۴۵۰ غړوڅخه ۴۴۴غړوبرخه واخسته او ۲۸۰ دسليمان ديمريل مخلوط حكومت ته مثبته رايه وركړه او ۱۶۴ تنويي مخالفت وكړ.

درتشكيلات حكومت موقت اسلامى نبايد شخصيت هاى متنازع فيه حضورداشته باشند

سخن روز

دجهادي مشرانو وروستي ازميښت

محمد خليل

هرافغان ته ډيره ښه معلومه شويده چي له افغانستان نه دروسي ځواکونو له تښتي نه وروسته کفري ځواکونه په ګڼه ګوښښ کوي ، چي په افغانستان کي ديوه سوچه خالص اسلامي اوخپلواك حکومت جوړيدو مخه ونيسي ، هغوي په مختلفو حالاتو او وختونو کي کله دامن اوکله دانسان دوستي په نامه دافغانستان له مسئلي سره خپل ځانونه مصروف ساتلي دي او غواړي چي يوه نه يوه ورځ خپل مقصد کي برلاسي شي.

که څه هم دلوي الله په فضل اودافغانستان دمجاهدولس دټينګ ايمان له کبله پخپلوناولومقصدونوکي بي څه بري ندي ترلاسه کړي ، خو بيا هم له خپلو فعاليتونو نه مايوس شوي نه دي ،ځکه خولګيادي په بي شرمانه دول دخپلو پلانونو دپياده کولو په خاطر زبردستي هلي ځلي کوي. لدي خبري نه هيڅ څوك سترګي نشي پټولي چي که چيري لدي نه پس هم چي دافغانستان مسئله يوه حساس پړاو ته داخل شويده زموږ ويښ ولس اوخصوصاً قيادتونه پخپل جايز درېځ ټينګار وکړي اويه پوره يووالي اواتفاق سره دجهاد لاره پرنبږدي نوددښمن ټول آرمانونه به له خاوري سره خاوري شي او وروستي بري به دمجاهدينو قدمونه ښکل کړي. داچي دګوداګي رژيم ژوند په ختميدونږکاري او هره راتلونکي شيبه دبري زيري ورکوي دافغانستان زورېدلي اوکړيدلي ولس خپلي سترګي مشرانو ته نيولي دي چي اياد وي اوس هم د پخراپشان داختلافاتو په جداجدا کرښو روانيږي اوکه دافغانستان دمستقبل دروښانه کولو اوخپل دردمن ولس ددردونو دواکولوپه خاطريويل ته دميني اتفاق اودخلوص لاسونه ورکوي.

دايوحقيقت دي چي دافغانستان مسلمان اوغيرتي ولس دجهاد اوصبرپه ميدان کي خپل مشران کله هم نه دي مايوس کړي اودجهاد له اولي ورځي نه نيولي ان ترننه پوري هرډول کړاوونه اومصيبتونه په پراخه تندې زغملي دي هغوي دخپلو اسلاګودوريات ژوندي ساتلي دي او دنيا ته يې ثابته کړيده چي دوي دخپل دين وطن عزت اوخپلواکي ساتلوپه مسئله کي له هيڅ څا نه کم نه دي . خو اوس دمشرانو کاردي چي دوي دافغانستان زړه وراوغيرتي ولس دقربانيو ثمرات څرنګه راټولوي ايا دوي دسلطان محمود غزنوي اواحمد شاه ابدالي نوم يو ځلي بياتازه کوي اودنيا ته داثابتوي چي دافغانستان غيرتي ولس غوره اواعلي قيادت نه ، نه د ي محروم .

دايوه ثابته اومسلمه خبره ده چي ديوقوم نوم اوعزت دهغه له قيادت سره تړل شوي وي .که قوم ځومره دګټي کارونه وکړي اودټولو نه لويي کار نامي سرته ورسوي خو چي قيادت يو ورکوتي څوندي غلطي وکړي نو دقوم ټول عمر قرباني اوخواري عبث شي . دافغانستان مجاهد ولس له خپلو قائدينو څخه له هرڅه نه زيات ددي خبري هيله اوطمع کوي چي دوي دي دقيادت مسئوليت په ښه شان اداکړي اودکوم غرض اومقصد لپاره چي دوي يې پخپل قيادت تاکلي دي دهغه تر لاسه کولو لپاره دستي نه کار واته خلي ، داسلام سرلوړي دافغانستان د خاوري . آبادي اوملت دخوشحالي لپاره خپل ټول صلاحيتونه پکار واچوي ،ځکه چي کفري ځواکونه دا نه غواړي چي راتلونکي افغانستان دي خوشحاله او په امن کي وي ، يوديل سره همدرد اوخواخوږي وي بلکي دهغوي آرمان دادي چي افغانستان دي دافتراق اودښمني په بټي کي وسوځيږي خپل ټول قوت يوديل په خلاف په وژلو اوکمزوري کولوکي مصرف کړي ، خودي کي شك نشته چي دکفري هيلوشنډولو لپاره وسله دقيادتونو په لاس کي ده که چيري دوي يو دريځ يوه لاره اويوشعارخپل کړنوپرته دڅه شك نه دکفر ټولي هلي ځلي له ناکامي سره مخامخ کيږي اودافغانستان دمجاهد ولس دآرمان په مطابق راتلونکي افغانستان نه يواځي دامن ، خوشحالي ، ووروګلوي اودميني ځانګرجوړيږي بلکي ددنيا پر نقشه ديوغښتلي مستحکم خپلواك هيواد شهرت اولقب هم ګټلي شي . پدي لړکي دافغانستان هروګړي ته هم پکاردي چي دخپلي خاوري دخوشحالي اوسسورتيا لپاره خپل مسؤليتونه په ښه توګه اداکړي ځکه چي افغانستان زموږ داسلافو دلاس يوقيمتي امانت دي چي ساتل ئي پرموږ فرض عين دي . افغانستان زموږ دهستوګني ګډ کوردي او زموږ دپيژندګلوي لويه ذريعه ده که موږ دخپل ګرور په ساتلو اواستحکام کي له غفلت نه کار واخست نوموږ به په ګرده نړي کي خوار اوذليل شو اوهيڅ چيرته به دپښو دايښودولپاره ځاي ونه مومو.

دافغانستان پنځه لسولکوشهيدانو روحونه ،کونډي ،يتيمان ، معيوبين اوټول کړيدلي ولس خپلو مشرانوته خطاب کوي او ورته وايي چي داسلامي انقلاب او ددين دسرلوړي په خاطر چي تاسودافغانستان له مسلمان ملت نه دجهاد اوقربانۍ کرسي غوښتني کړي وي هغه موږ دعمل په ميدان کي ترسره کړي اوس ستاسو دعمل امتحان راغلي دي چي اياتاسودملت دارمانونو سره سم ديوه سوچه اسلامي حکومت اوخوشحالي افغانستان په خاطر پخپلوکي دميني اودااتفاق لاسونه ورکوي او که دخپلو شخصي ګټو لپاره دافغانستان مسلمان ولس پر قربانيو له امريکا اودهغي اتحاديالانو سره سوداکوي .

خواخبره په يادلري چي که هرڅا داسلامي انقلاب له مسير نه انحراف وکړ اودافغانستان ګټي يې تر پښولاندي کړي نو دهغه لپاره په افغانستان کي هيڅ ځاي نشته اومجاهد ولس به هغه عمل ورسره وکړي چي داسلام له دښمنانوسره يې کړي دي.

دايران اوامريکا پټ سازش

حقمل

دايران ځني واکمني حلقي چي دافغانستان پرارتباط څه کوي ، دادهغه مشترك توافق اومعاهدي مطابق دي چي دخليج دجګړي. په دوران کي دامريکا اوايران ترمنځ ديټوخبرو اترو په نتيجه کي امضا شوي .

دکومي په وجه چي ايران پرعراق دحملي په دوران کي امريکاته دمرستي ژمنه کړي اودايي په ذمه اخستي وه چي په عراق به فشاراوړي ، زيات شمير پوځ به دعسکري مانوروترنامه لاندي دعراق په سرحداتو کي پياده کوي ، اودعراق هيڅ ډول مرسته به نکوي ، که چيري عراقي الوتکي ايران ته پناه وړي نوبيرته به ئي نه مستردوي همداراز دعراق په جنوب کي ميشته اهل تشيع به دعراق پرخلاف هڅوي .

ددي په مقابل کي به واشنګټن په افغانستان کي ايران ته دفعال رول اداکولو شرايط برابروي اودپه زړه پوري امتيازاتو ترلاسه کولو موقع به ورکوي .

همداوجه وه چي : دخليج دجګړي له پاي ته رسيدو سره سم ايران دافغانستان په اړه نوي تحرك پيل کړ، په پاکستان کي ځنوامريکاپالو حلقو داهڅه شروع کړه چي په ايران پوري تړلي ډلي راوړاندي کړي ، پوره امتيازات ورکړي ، دمجاهدينو په شوري اوحکومت کي لويه برخه ورکړي ، په غرب پوري تړلي ډلي له ايران سره نژدي کړي اوهغه تنظيمونه چي دايران له پاليسي سره موافق نه دي اونه غواړي دايران دخوښي حل په افغانانو تحميل شي بايد په مدارمداردېته اړکړي شي چي ايران ته دامتيازاتو وورکول ومني ، که نه په دوي بايدفشار واچولي شي اوله صحني نه يي دلري کولو هڅه وشي .

دامريکا فکردادي چي په افغانانو کي دمذهبي تعصباتو په اساس راولاړي شوي فتني ، اسلامي ډلي په خپلو منځونوکي مصروفوي ، اودتضعيف باعث يې ګرځي اوپدي ترتيب دملي ګرا اوغرب ګراډلو لپاره دفعال رول اداکولوشرايط برابريږي ، که تجيب ، ايراني واکداراتوته داموقع ورکوي چي دهواله لياري هزاره جاتوته مرستي ورسوي مقصد يي همدادي چي لدي لياري په افغان ولس کي دمذهبي تعصباتوتشديد او دهمدي په وجه دداخلي شخړو اوداسلامي ځواکونو په خپلو منځونوکي دمصروف کيدو شرائط برابريږي . هغه داکاردخپلي بقا لپاره يويل چانس ګڼي .

زه نه پوهيږم چي په پاکستان کي ولي ځني حلقي دخپلوملي مصالحو پرخلاف ددي منصوبي ملاتړکوي پداسي حال کي چي ګوري دلته هم په پاکستان کي هم هغداسازش روان دي، په خپلو منځونوکي دشيعه اوسني دجنګونو لپاره هغداناولي لاسونه مصروف دي .

دمذهب په نامه مسلمانان په خپلو منځونوکي جنګول داداسلامي امت پرخلاف داسلام ددښمنو ځواکونو ګډ سازش دي . دوي به دخپلو استعماري ګټو لپاره معارض اسلامي دولتونه دقوي داستعمال اوداقتصادي محاصرو له لياري ټکوي ، خوداسلامي جهادي ځواکونو په خلاف خپل روزل شوي عمال دمذهب ترپردي لاندي استعمالوي ، مذهبي تعصبات به راپاروي اودمذهب په نامه به يوديل په خلاف جنګوي ، څوك چي مذهب لري هغه به لومړي دخپل مذهب له بنيادي دښمن سره جنګيږي ، نه له هغه چاسره چي يواځي په څينوفرعي اوجزئي مسائلوکي ورسره محدود اختلاف لري اويه ټولو بنيادي مسائلوکي سره ورته دي ، څوك چي مذهبي تعصباتو ته لمن وهي هغه تل ديرديو له خوا استخداميږي .

انشاء الله اوس اسلامي امت بيداردي خپل دوست اودښمن پيژني ، داتوطئي اوسازشونه دځپاند اسلامي خوزښت په وړاندي دخس اوخاشاك حيثيت لري چي نشي ترانيداي داسلام دېري په وړاندي ټينګښي .

هيڅوك نشي کولاي چي په افغانستان کي هم دلبنان په شان حزب الله اوامل جوړکړي اومسلمانان په خپلومنځونوکي وجنګوي اودااسرائيلو په شان ځواکونو ته دګټي اخستلو موقع برابره کړي . دلته فرد فرد مجاهد دخپل سر اووينوپه قيمت دخپل ملي وحدت ساتنه کوي اودهرهغه ځواك په وړاندي به ودريږي چي دافغانستان دتجزيي او زموږ دملي وحدت دختمولو هڅه وکړي .

زموږهمسايه ملکونه پدي پوهيږي چي که په افغانستان کي دجنګ اوربل و مخصوصا دمذهب په نامه داکاروشي نو ددي اورلوخړي نوروته هم سرايت کولاي شي په افغانستان کي امن اواستقرار نه يواځي ددي هيواد لپاره ضروري دي بلکي دټولي منطقي دامن لپاره ضروري دي خوامن هلته راتلاي شي چي ديرديو په لاس تحميل شوي رژيم ختم شي .

افغان ولس ته ددي موقع ورکړي شي چي دخپلي خوښي اسلامي حکومت جوړکړي اودافغانستان په داخلي امورو کي له بهرنه دلاس وهنو سلسله پاي ته ورسيږي .

که داوسني ټپل شوي رژيم په ځاي قدرت داسي مؤقت حکومت ته وسپارلي شي چي په هغه کي متنازع فيه شخصيتونه غړيتوب ونلري ، بيا اوربند تأمين شي ، انتخابات ترسره شي اومنتخب حکومت اومنتخب پارلمان جوړشي ، نو پدي ترتيب پدي ملك کي سوله راتلاي شي ، څوك چي په افغانستان کي سوله غواړي نوداسي يوه حل په ترلاسه کولو کي دي دافغان ولس مرسته وکړي اودخپلي خوښي دحل دتپلو هڅه دي نه کوي .

چي داکارنه يواځي ددوي مقصدنشي پوره کولي بلکي قضيه نوره پيچيده کوي اوحل بي ګرانوي .

روسهابه حل قضيه افغانستان صادق نيستند

ذبيح اله قريشي

خداوند خواست تاجرقه جهاد رادردل ملت هاي درخواب فرورفته بدرخشاند تاباري راه فلاح ورستګاري را اولاد درظلمت فرورفته آدم بازيابد وبه قله هاي شامخ انسانيت پربکشايد .

اين اساس بوده است که ملت پابرهنه ماقادرشد تاماشين حربي دشمن مخوف رادرسنګر عسکري به اتکاي خداوند ازکارباز داشته ودرميدان جنګ مجبورش به فرارنمايد .

اشخاص خبروآګاه درجهان ، به اين حقيقت اعتراف دارندکه واژګوني سوسيال امپرياليزم خوفناك روسي، درقرباني ، استقامت وپايمردي ملت سلحشور ومجاهد افغانستان نهفته بوده است . آنهاخوب مي دانند، هرګاه اين ملت قيام نمي کرد وخوف ارتش ارهابي سرخ راپاخون ګهربارخويش ازصفحات ذهن هاعملا نمي نشست ، شايد ملت هاي زيادي درجهان ، زيرسم ستوران چکمه پوشان کوردل کمونيزم له مي شدندومشکل بودقومي قدراست مي کردودردم تيغ ارتش وحشي سرخ واميستاد وفرياد حق برمي آورد .

آري ، دشمن که درهرمعرکه ضرب شمشير مشعل بدستان آزاده را نوشيد، امکان پيروزي درميدان جنګ ازمخيلهاش براي هميش رخت بست ، درصدد ګشودن سنګرغيرعسکري ګرديد، تا باپيمودن طريق غيرنظامي، جرقه فياض وظلمت سوزجهادکه جلال وجبروت استکبار را به باديستي داده است خاموش ګرداند البته براي دست يافتن به اين مقصود ناميمون بارهاست طي طريق نموده ولي لله الحمد بادرايت وآګاهي سنګرداران دلسوز بمقصد نه رسيده وهرباري جزشکست نصيبي نبرده است .

روسها تعهداتي که درقبال مسايل جهاني بويژه قضيه افغانستان به امريکاسپرده اند، به نظرم به حل مسأله افغانستان ازراهيکه ملت مسلمان افغانستان غرض نيل به آن قرباني داده صادق نمي باشند .

ولي بازرنګي خاصي که باب مذاکره راباماجاهدين درنازکترين مرحله ګشوده ، خواستند تاازيك سو باعث سردي سنګرهاي خونين جهاد ګرديده وبرنورتجلي بخش جهاد خاك بپاشند وازسوي بدين ترتيب باعث ايجاد تفرقه وچند دستګي ميان مجاهدين ګرديده باشند .

چه اګر روسها واقعاً به حل قضيه افغانستان خوشبين بوده ودرصددبهترنمودن علاقات شان بامجاهدين بوده باشند،ايجاب نموده ومي نمايد تاصداقت واخلاص شان رابابرداشتن ګام هاي عملي به اثبات رسانيده اولتر ازهمه دست برداشتن ازرژيم مزدورکابل که دراثر تجاوز ارتش روسي برګرده ملت ماتحميل ګرديده وتاااکنون باساعدات نظامي واقتصادي روسها نفس مي کشد، مي باشد .

به صراحت بايدګفت که روسها درمذاکرات ماسکو ازبحث حول قضاياي ريشي طرفه رفته واکتفاء به الفاظ حماسي که هيچ دردي رادرمان نخواهدکرد شده اند .فقط مسأله بي که بوضاحت مطرح ګرديده است سخن پيرامون آزادي اسراي جنګي شوروي مي باشد که متاسفانه درآن بند، نامي ، اززندانيان ماچه درروسيه شوروي وچه نزد رژيم کابل بوده ، برده نشده است .

مابه برادران عزيزي که دلسوزي به جهاد وملت مجاهد خويش دارند به ديده احترام نګريسته لبه تيز تيغ انتقاد خويش را بسوي ايشان نمي ګيريم اماتقاضاي سياست ، ومجتمع ماابن است تامسايل واضح وروشن بادشمن مطرح ګرديده ، قرارداد ها به شکلي صورت ګيردکه ازلفاظي جلوګيري شده تاضرورت به تعبير آن پيش نيايد .

سياست روي الفاظ حماسي وعاطفي هيچګاه حساب نمي کنند چه روسها تجاوزغيرقانوني خويش را برافغانستان درپرده عاطفه پوشانيده ، که دراعلاميه مشترك (هيئت مجاهدين ومقامات شوروي) فرستادن عساکر شوروي برافغانستان تقبيح ګرديده است

درحاليکه قانوناً ايجاب مي نمايد تااين عمل روسها علاوه از تقبيح ،غيرقانوني وتجاوزبه حريم کشور صاحب استقلال وسيادت دراعلاميه خوانده مي شدکه اين حقوق حقه ملت مظلوم مابحساب مي آيد تادراثرآن قانونا روسها غرامات جنګي رامي پرداختند که دراثرتجاوز غير قانوني آنها ملت ماخسارات جاني ومالي خارج ازحساب وشمار رامتقبل ګرديده اند.

به اساس قرارداد هاي بين الملل ، روسها متجاوز اندومتجاوز بايد غرامات بپردازونه اينکه دراعلاميه مشترك آمده است :" جانب شوروي هم چنان اعلان داشته است که مکلفيت آن براي اشتراك دراعمار مجدد افغانستان پابرجا باقي بماند "

آيااين بيان ، روسهارا درقبال تجاوزشان غيرملزم قرارنداده وخون ملت وويراني وطن رابه بادفناندا‌ده است !!

(بايد عرض کردکه درمورد غيرقانوني بودن معاهدات رژيم باروسها باقلم نويسنده اين مقاله در شماره مسلسل (٤.٤) جريده شهادت روشني انداخته شده است)

اګرمادل به اين خوش نمايم که روسها تجاوزخويش رابه افغانستان درپرابرهيئت مجاهدين تقبيح نموده اند، درست نخواهدبود زيرا اول اينکه نظام کمونيزم اساسش برآن بوده تا همواره خلف سلفش رابباد انتقاد بګيرد وثانيا بارهااست که فرستادن ارتش روسي برافغانستان ازجانب دولتمردان روسي انتقاد ګرديده ، واولين مرتبه اندروپوف وبعدازوي چرنينکواين عمل رامحکوم نمود وګورباچوف ازآن به عنوان زخم خون چکان تعبيرنموده است .

روسها که مسأله بي عدم تحويل دهي اسلحه ، تجهيزات جنګي وموادسوخت مورد ضرورت نظامي رژيم راکه ازاول جنوري ۱۹۹۱ ع دراعلاميه ذکرنموده اند (درحاليکه قبلا درين زمينه باامريکايي ها به توافق رسيده اند) آيا غريب وبازي باکلمات نيست که دراعلاميه مشترك ذکر ګرديده است !!

باوجودآن هم آياقيد مواد سوخت نظامي خوددليلي علاقمندي مساعدات ماسکو به رژيم کابل نيست ، اګر واقعا روسها خواهان حل قضيه افغانستان باشند چرا افراد نظامي وغيرنظامي خودرايکباره ازافغانستان فرانمي خوانند واګر ازعملکرد هاي قبلي خويش پشيمان باشند پس چراعملا تعلق خويش رابارژيم غيرقانوني نجيب قطع نمي کنند !! وهکذا چرامتوقف ساختن کمك هاي نظامي وغيرنظامي خويش را بررژيم کابل اعلان نکردند که آنرابه جنوري موکول نموده اند !! و...

اين همه مسايل خودمي رساندکه روسهابه حل قضيه افغانستان صادق نمي باشند ، حقيقت امراين است که آنهاباستکبار غرب متحد شده درجهت تضعيف مسلمانان وتطبيق برنامه هاي نظام نوين امريکا ګام برمي دارند وسخت مي کوشند تاجهاد اسلامي افغانستان که اميدمستضعفان جهان وراهګشاي عصيانګران وکافران برطاغوت مي باشد ، درحساس ترين مرحله ، خفه نموده وبه نورفياض وحيات بخش جهاد براي ساليان متمادي پرده قيرګون جهل وخرافات رابنام اسلام بکشند .

درين راستابهتراست آنانيکه دلسوزبه جهاد وملت اندوبراي آزادي وطن ازقيدکفر والحاد مردانه برخاسته ، ملت راآګاهانه رهبري ورهنمايي نموده اند، بخاطرحفظ ناموس وطن و افتخارات جهادمقدس از" انانيت " ها دست برداشته نګذارندکه مؤامرات دشمنان اسلام سنګرهاي ګرم جهاد راسردنموده وسنګرنشنګان عزيز رامعطوف به حل سياسي نمايد .

بايد توجه شود،اصلاً مفاوضات ومذاکرات برآن است که آنچه درميدان جنګ حاصل ګرديده است ، در ميزمذاکره به آن صحه ګذاشته شود، نه اينکه آنچه حاصل ميدان نبردباشد به باد فنا داده شود،

کوشش ګردد، همانطوريکه درسنګرهاي نبرد بردشمن يورش برده شد وخصم زبون ازپيروزي خود مايوس ګرديده وسنګرسياسي راګشود، متحدانه ، بامواضع مشترك وسنجيده ازقبل، واردمذاکرات شدتابدين صورت حق ازدست رفته بي ملت مادرسنګرديپلوماسي نيز بازګرديده ودشمن خجل ورسوا ازسنګرسياسي بيرون رود .

دپاکستان داهل حديث ګوندبرالاتيري دفکروړدي

تنګيار

زمونږدسپيڅلي جهاد له پيل نه چي دپاکستان مسلمان ولس له موږسره څومره مرستي کړي اوکوي يې له دي به هيڅوك سترګي پټي نشي کړاي او افغانان خويه يې هيڅکله هم هيري نکړي ولي چي دخپلو يې شميره کړاوو نوسره، سره يې هم زمونږ پنځه مليونو مهاجروته دزړه له کومي ښه راغلاست ووايه اوترنن ورځي يې ورسره دوروڼيه شان مرسته اوګوزاره وکړه . لاچي ځيني يې له مجاهدينو سره سنګرونوته هم ولاړل اودخداي (ج) په لاره کي يې شهيدان هم شول .

ددي ټولومرستو اوستونزو زغملو علت څوداوه چي زمونږ مسلمانو خلکودکفرله منګولو نه دخپل ناموس دژغورلو اوجهادته دځان تيارولو لپاره ، خپل اسلامي ګاونډي هيوادته هجرت وکړاودغودپاکستان مؤمنو خلکوهم لکه څنګه چي بايد شوي واي، هڅسي وکړل . په هرځاي اوهرحالت کي يې دخپلومهاجروورونوسره يې مثاله مرستي وکړي اوخپله ديني دنده يې بهرته ورسوله . ددغومرستو نتيجه داشوه چي پاکستان هم دروس له برغل نه خوندي پاتي شواودتل لپاره ددغه حتمي خطرله شره خلاص شو .

زمونږ مجاهدملت به دپاکستان دمسلمان ولس دغه بي رياءمرستي هيڅکله هم هيري نکړي اوکه يې حاجت شوانشاء الله څوځله به يې هم ووګرځوي . ولي په هيڅ صورت کي به چاته ددي اجازه ورنکړي چي زمونږ په کورنيوچاروکي لاس ووهي اودمرستي په نامه دځانګروګټودلاس ته راوړولو په فکرکي وي .

داچي افغانستان دافغانانو هيواددي اودهغه هره ښه ، بده په افغانانو پوري اړه لري نوبيا بل چاته ددي حاجت نشته چي زمونږ په مسايلو کي لاس وهي . وايي چي " ورورري به کوو، حساب ترمنځه " دچاله ورورري ، مرستي او خواخوږي نه منکرنه يو، ولي چاته دا حق هم نه ورکوو چي زمونږ په‌کورکي اوورونه بل کړي اوځانونه پري تاوده کړي . بايد نړيوال دروس له ماتي نه عبرت واخلي اونور دافغانانو دازمايلو شوق ونکړي . زمونږ مسايل په موږپوري اړه لري اوموږ به يې حل کوو، که موږ حل نشو کړاي اوبيا موله چامرسته وغوښته نويه هغه حالت کي بيا کولاي شي راسره مرسته وکړي .

زمونږ دګټومسايلو په لړکي، يوه هم دکونړ ستونزه وه ، چي دهمدغولاسوهنو په نتيجه کي دجګړي اومرګ ژوبلي سرحدته ورسيده . که نه کيداي شوه چي ديرژرحل شوي واي . داد کونږدخلکومسئله وه اويه هماغه‌ډوري يې اړه درلوده ، لکه چي هغه ده حل هم شوه ، ددواړو خواووترمنځ هوله هم وشوه اودراتلونکي لپاره هم ګډ تصميمونه ونيول شول . که چيري بيادکونړ خلکو دامسئله نه واي حل کړي نوکيداي شواي چي افغانستان دنورووليتونو مسلمانو خلکودهغه به حل کي برخه اخيستي واي، ولي چي کونړه دافغانستان برجزء دي .

ولي وموکتل چي دجمعي په ورځ (دلينډي اتمه) ديښپوريه جناح پارك کي دپاکستان داهلحديث دولګي لخوا يوه جوړشوي کنفرانس کي زمونږ دانصارو ورونو لخوا زمونږ پرحقوقو داسي ښکاره اوناروا‌تيري وشو چي په هيڅ حالت کي يې ته نه کيدله . دپاکستان اهلحديث ګوند په‌ښکاره زمونږ په کورنيو چاروکي دلاس وهني اسناد په‌ځاي پريښودل.

پدغه کنفرانس کي دحزب اسلامي اودهغه دقيادت پرضدله دښمني ډك شعارونه ورکول اوددغه ګوند درئيس " ساجد مير" له خوا دشهيدمولوي صاحب جميل الرحمن دقتل مسئوول حزب ګڼل، هغه ناروا‌تيري و چي زمونږ خلك به يې نه وينې اونه به يې تحمل کړاي شي . ځکه دمولوي صاحب جميل الرحمن قاتل ټولي نړي ته ښکاره دي ، چي يوبهرني شخص ؤ اوبيا چي ساجد ميرصيب پدي باب هيڅ اسناد هم نلري، نودغه ډول ناروا الزام ديومسلمان له شان سره متناسب نه ښکاري هغه چي بيا په ټوله نړي کي دقرآن اوسنت دحکومت کولو ارداه هم لري .

دحزب اسلامي پرضد داهلحديث پاکستان دګوند دغه له حقيقت نه لري الزامونه لګول، برسيره پردي چي زمونږ پرکورنيو چاروکي برالا لاسوهنه ده ، يو غيراخلاقي اواسلامي عمل هم دي . ځکه دغه الزام يوبهتان دي اويوتهمت اوبهتان اوتهمت دواړه له کبيره ګناهوڅخه دي .ځکه دغه جناب هيڅ سند اومدرك نلري .

بيا دمولوي صاحب جميل الرحمن اوياهربل افغان دغم اوښادي مسايل په افغانانو پوري اړه لري، ساجد ميرصيب بايد خپل غم وکړي اودخپل هيواد ستونزي دي اواري کړي .

دکونړ مسئله زمونږمسئله ده ، داپه ساجد ميراويابل چاپوري هيڅ اړه نلري، دپاکستان اهلحديث که دپاکستان ټولنه اصلاح کړه نوبيا به يې موږهم مرستي ته راوبلو ، دوي که په کونړکي داسلامي امارت غوري کوي، نوداهم زمونږ افغانانو مسأله ده ولي چي کونړزمونږسيمه او زمونږ دهيواد يوه برخه ده .

ښه به داوي چي دپاکستان اهلحديث دساجد ميرصيب په مشري په پاکستان کي اسلامي حکومت جوړکړي اوبيا لژترلږه يې که په خپل کلي کي جوړکړي هم ډيره به وي اوکه خبره داسي وي چي دوي خلك په خپل کلي کي نه پريږدي اواوس يې دخپلو خويونو دتعبيرځاي کونړتاکلي وي نودامحاله ده .

هيله ده چي دپاکستان حکومت اوخلك داهلحديث پاکستان ددغه ناروا‌تيري جاج واخلي اوله بياتکرار مخنيوي يې وکړي . ګني افغانان ددي توان لري چي دځان اوهيواددفاع وکړي

ابدي معجزه اونړيوال پيغام

ايماني

دقرآن مجيد سره دوامداره مينه ،ژورمحبت ، دهغه په حقانيت پوخ اونه لړزيدونکي ايمان اودهغه په نسبت دنړيوال مثالي نظام دمينځ ته راوستلو لپاره جدوجهد کول په اسلام کښي له عقيدي ځيني‌شهيرل کيږي هغه لاربښوني چي ددغه کتاب اساسي بلنه ده اودانساني فطرت په تل کښي دمحبت احساس اونه ماتيدونکي تندي جذبه راپورته کوي ددغه الهي کلام حيرانونکي ناآشنا اسلوب ،غوره اومعقول قوانين دانساني ژوند لپاره په ټولو ارخونو کښي کاملي لاربښوني اوپلاخره ددارينو دابدي سعادت اونيکبختي تګ لاري دي ،دغه زړه راښکونکي اسلوب داسي لوړ اوجذاب اسلوب دي چي په يوه خطاب سره دانسان عقل ، فکر ، شعورواعاطفه ترژوري اغيزي لاندي راولي ، داسي حيرانونکي تاثيريه هيڅ انساني کلام کښي تر اوسه ندي ليدل شوي.

ددغه لازوال کلام دالفاظو ترکيبي پوخوالي اوکامل انسجام دمعانيولوروالي اووسعت په حقيقت کښي دسترحکيم ذات دعلم اوحکمت څرګندونه کوي.

دقرآن مجيد اعجاز ، عظمت ، حقانيت اوصداقت پهمسلمانانو سربيره ټولونړيوالوته څرګند شوي اود تصديق په هکله يې

اسرائیل قدرت اتومی

قسمت دوم — عثمان حلیف

" فاین برگ " درآپارتمان هوتل " پیري " درمنطقه اعیان نشین نیویارك ازکندي " کاندید ریاست جمهوري " پذیرایي کردکه علاوه ازاو یهودیان بانفوذ دیگرهم درآن جاحضورهم رسانده بودند . بعدازیك مباحثه توام باعصبانیت بین کندي ویهودیان " فاین برگ " توانست پنجصد هزاردالربراي انتخابات کندي جمع آوري نماید که درپایان جلسه وعده کمکهاي بیشتر هم داده شد .

یك روز بعدازین ملاقات " چارلس بارت لیت " یکي ازژورنالستهاکه باکندي دوست بود متوجه گردید که کندي تاچه حد ازملاقات مذکور ناراحت بود .

زیرا به حیث یك امریکایي رنج برده بود ونفرت داشت ازاینکه عده ازصهیونستها به وي گفته بودند که مامیدانیم که شمادرانتخابات بامشکلات مواجه هستید . ما آماده ایم مصارف شمارا بپردازیم درصورتیکه شماکنترول سیاست شرق میانه رابراي ماواگذارشوید .

کندي زمانیکه به ریاست جمهوري رسیدبه " بن گوریون " نامه نوشت وطي آن یاد آورشده بودکه مسأله " دیمونا " بامنطقه ایکه نیروگاه اتمي اسرائیل درآن واقع است ، باعث سوء تفاهم بین ماگردیده وامکان دارد باعث ایجاد فاصله گردد . ولي صدراعظم اسرائیل مقابله " ازوي بنام یك مردجوان ! یاد آوري مي کردکه اکثرا جوابهایش هم چندان مودبانه نبود .

کندي مي خواست در"دیمونا" ازطرف کمیته تحقیقات بین المللي انرژي تحقیقات همه جانبه صورت گیرد .

فاین برگ مي گوید به خاطر اینکه تحقیقات همه جانبه نباشد من خیلي ازمشکلات رابرخود قبول کردم .

"پاول نیتس " ازهمکاران نزدیك " رابرت مکنامارا" وزیردفاع وقت امریکا گفت که اسرائیلي ها بم افگن هاي مدرن ازامریکا تقاضا مي کردند ومن تقاضاي شانرابه دلیل اینکه تازماني که حقیقت مسأله "دیمونا" آشکارنشده ، ردکردم که بعدا " فاین برگ " وارد دفترکارمن شد وگفت که شما نمیتوانید تقاضاي شاراناديده بگيريد . من درجوابش گفتم که من این کارراکردم . وي گفت که من کاري میکنم که شماناچاربه این موضوع تن دهید ومن بعدا وي را ازدفترکارم خارج کردم . سه روز بعدمکنا مارا " وزیر دفاع وقت امریکا " به من تیلفون کردوگفت که وي به اساس هدایتي که ازبالا دریافت داشته به من " پاول نیتس " یاد آوري مي کندکه در مسأله سپردن بم افگن ها به اسرائیل ، تغیرموقف دهم . چیزي که بعدا کردم .

گفته مي شودکه به اساس فشاردایي رئیس جمهوري امریکا بالاخره گوریون پذیرفت که امریکا مي تواند دستگاه اتمي اسرائیل راسالانه یکبار ارزیابي نماید ولي نه به شکلي که کندي مایل بود . زیرا کندي مي خواست این ارزیابي بوسیله کارمندان ومتخصصین انرژي اتمي بین المللي صورت بگیرد .

زمانیکه متخصصین وکنترولر هاي امریکایي ازمنطقه دیمونا وتأسیسات نیروگاه اتمي واقع درآن بازدید نمودند چیزي بدست نیاوردند . زیرا اسرائیل درجهت فریب شان ازقبل خیلي خوب زمینه سازي کرده بود .

اسرائیلي ها دردیمونایك اتاق کنترول تقلبي اعمارنمودند وآنرابا وسایل اندازه گیري کمپیوتري مجهز ساختند به قسمیکه نشان دهندکه ریاکتورتنها ظرفیت ۲٤ میگاوات تولید انرژي رادارا است . درحالیکه این رقم درواقعیت امرسه برابربود .

دروازه هاي ورودي به قسمت هاي حساس دستگاه راکه درآن به ساختن بم مي پرداختند ، همه به تازگي طوري مسدود ساخته بودند که بادقت کم هم مي شد درك کرد که دروازه هایي درآن نقاط وجودداشته است .

اسرائیلي هاهم چنان بافرانسوي هادرساحه تخنیك سلاح ها به همکاري خویش ادامه دادند . طوریکه انجنیرهاي اسرائیلي اجازه ورود به منطقه تطبیقات اتمي فرانسوي هادرصحرا رانیزداشتند .

اسرائیلي ها درسال ۱۹۶۳ یکصد میلیون دالر به فرانسویها پرداختند تاایشان رادرساختن راکتهاي بورد متوسط یاري کردند . راکتهاي مذکوربنام " Jericho -۱ " یادمي شود که قدرت حمل کلاهك هاي اتمي رانافاصله پنجصد کیلومتر دارا میباشد .

بعداز استعفاي بن گوریون در ۱۹۶۳ قدرت به " لیوي اشکول " انتقال یافت ولي حاضرنبودمبالغ هنگفتي را درپروژه هاي اتمي اسرائیل به مصرف برساند ومي خواست به تدریج درجهت بدست آوردن بم اتمي گام بردارد ودلیل وي هم این بودکه اعراب تاسال ۱۹۹۰ به بم اتمي دست نخواهندیافت بنابران به عجله ومصارف زیاد درین زمینه چندان ارزش نمي گذاشت وگذشته ازآن تاآن وقت اسرائیل نه راکتهاي دوربرد داشت ونه هم بم افگنهاي که ازان ها درجهت استعمال بم هاي خویش درفاصله هاي دوراستفاده نماید .

